مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سمسور ودان

۲۰۲۲/۱۰/۳۰

# په دې لا پوه نشومه

دوی چې په لېو کې د خپلو سینو زړونه کېښوول
مونږ هم لاسونو کې له دوی نه زار سرونه کېښوول

ساحرې وموسل په اداء چې یاره زه به څه کړم؟
زما په ډنډ سترګو یې تک تک کې لاسونه کېښوول

دغه رهبر چې مونږ یې سپین لاربنود د ځان بولو
ده په هره لاره شهید شهید لاشوونه کېښوول

دا ده یو بله وعده هم ماتیږي وخت یې تیر شو
یو چا مې زړه باندې په توره شپه ټپونه کېښوول

زه یې چې قتل کړم اعزاز د خواخوږئ یې واخیست
د سر قاتل مې د مزار خوا کې ګلونه کېښوول

زما له سینې به د اشنا نوم موسیقي واوري
لیلا له چپې اوږې لاندې خپل غوږونه کېښوول

ړانده هم نه و په وطن هم دربدو خو یاره
د وخت غوښتنه وه په سترګو مو قلفونه کېښوول

زه ملامته وم که یار؟ په دې لا پوه نشومه
فاصلې جوړې شوې په منځ کې مو وختونه کېښوول

۲۰۲۱/۸/۷جلال کوټ



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ